# لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ وَشَاءَ فُلَانٌ، وَلَكِنْ قُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ». «داسې مه وايئ چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کيږي، بلکې ووايئ: څه چې الله وغواړي او بيا يې فلانی وغواړي هغه کيږي

له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ وَشَاءَ فُلَانٌ، وَلَكِنْ قُولُوا: مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ». «داسې مه وايئ چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کيږي، بلکې ووايئ: څه چې الله وغواړي او بيا يې فلانی وغواړي هغه کيږي».

رسول الله صلی الله عليه وسلم لدې منع فرمايلي دي چې يو مسلمان په خپلو خبرو کې ووايي چې: «هغه څه چې الله وغواړي او فلانی يې وغواړي هغه کيږي». يا دا چې: څه چې الله او فلانی وغواړي هغه کيږي؛ ځکه چې د الله تعالی خوښه (مشيئت) او اراده يې مطلقه ده، هېڅوک ورسره په کې شريک نه دی. او په عطف کې د (واو) توري له کارولو څخه داسې انګېرل کيږي چې له الله تعالی سره دې بل څوک شريک او برابر وي. بلکې وايي به: څه چې الله وغواړي، بيا يې فلانی وغواړي هغه کيږي، نو پدې سره به د بنده خوښه د الله جل جلاله د خوښې تابع وګرځوي چې د (او) پر ځای د (بيا) کلمه وکاروي، ځکه بيا د وروستې معنا ورکوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3352

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee